

د سولې سفر

اتمه کېسه

دوهم چاپ

# پخلاینه

لیکونکي:


داکتر جوانا سنتا باربارا
مارى- جو لند
داکتر گرایم مک کوین
کیون آرتر لند



دیزاین: یار محمد تره کي
*انځورکونکۍ : ل. غفورى*

*ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل*

موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**كيسې او د ښوونكي لارښود په لاندې ويب سايتونو كې شته دئ:**

**www.journeyofpeace.ca**

**او**

**www.htac.org**

HTAC

ددې كيسې كتاب د موسسه كمک به اطفال افغانستان په واسطه تمويل او ژباړل شوی دی.

موسسه كمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*‘building a civil society through education’*

# د سولې سفر

**اتمه کېسه**

**دوهم چاپ**

# پخلاینه

لیکونکي:

داکترجوانا سنتا باربارا
ماري- جو لند
داکترګرایم مک کوین
کیون آرترلند

دیزاین: یار محمد تره کي

انځورکونکۍ : ل. غفوری

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر ګرایم مک کوین

ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل ـ موسسه کمک به اطفال افغانستان

دسولې دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

## په کیسه کې ښکیل کسان :

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجمیلې ٥ کلن ورور

**عبدالله:** دجمیلې ۱٥ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا:** دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنۍ انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنۍ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنۍ کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو ترورو او د یونس کاکا ځوانه کونډه

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکیسې لنډیز :

جمیله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په یوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه کورني اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لیدلې وي اوهغه یي لا هېرې شوې نه وې چې یوبل مصیبت ورباندې راغی . یونس کا کا چې دکښت په ځمکه کې یي کار کولو،یوماین پرې والوت اوهغه یي وواژه اوپلار یي ،میرزا، یوه پښه له لاسه ورکړه .

**دجمیلې دسوغات په کیسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې دیوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشویش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران یوملګري ته کلک ګذاوروکړی دئ اودهغه په شخصیت اوسلوک یي بدلون راوستی دی . دجمیلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په یوه ځانګړې طریقه دهغې درملنه وکړي په دې کیسه کې ځاي شویدي .

**د بی بی جان د هوښیاری په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې د یوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشویش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د یوملګري روغتیا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصیت او سلوک کې یې بدلون راوستی دئ ، د جمیلې د ویرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په یوه ځانګړی طریقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .

**دکلچودپخولودکېسې** ډېره برخه دجمیلې ددردونو اورنځونو څخه حکایت کوي . هغه ماین دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماینوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي . بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جمیلې سره مرسته کوي اوله همدې وخت څخه په ګټې اخیستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دتېپې کېدلوغم وزغمي . همدارنګه بي بي جان غواړي داسي یوآغېزمنه لارپیداکړي چې دهغې په وسیله فاطمه وهڅول شي هغه غم چې ورته دیونس کا کا دمړینې له امله پیداشوی دئ په خپله ژبه ووایي .

**دميرزا دغمجن زړه په کېسه کې** ،دجميلې لپاره داډېره ستونزمنه ده چې وپوهيږي ، دميرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه يې دومره غمجن کړيدئ . جميله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاريې اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معيوب کېدلو څخه چې مخکې و . پلاريې داسې يو سړی وچې ډېرې کيسې يې زده وې . دجميلې ماشومانه پوښتنې ميرزا ته ژړاوروليي ، اودا ورپه يادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی و . اوداهيله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندۍ کوي .

**د يونس دسندرې په کيسه کې،** احمد او جميله د فاطمي غم او خپګان، چې هغه د يونس کاکا ځوانه کونده وه، احساسوي او کوښښ کوي چې فاطمه بيرته خوشحاله کړي. بي بي جان هم په دې موضوع پوهيږي هغه خپل فاميل ته د مختلفو لارو وړانديزکوي. هغه دکورنۍ له غړوڅخه غواړي چې يوځای کې راټول شي او هغه خوږې خاطرې چې له يونس څخه يې لري د سندروپه ويلو ونمانځي.

**د کور پرېښود لو په کېسه کې،** هغه وخت چې دشپې له خوا د دوی په کلی دمر دکيودويشتلو باران جوړ شو، کورنۍ له دې ډارونکي واقعيت سره مخ شوه چې بايد خپل يو ګران شئ چې هغه ددوی کور وو ترک کړي. د کورنۍ هرغړی له د غې ناحيې څخه کلک روحي ګذار خوري. خو په اخرکې دوي په دې پوهيږي چې بايد له زړه ورتيا څخه کار واخلي او دهغو په وړاندې مقابله وکړي.

**د يونوي ملګري په کيسه کې** دميرزا کورني غواړي د علی کورته ولاړه شی . دعلي کورته له رسيدلو څخه مخکې دوی دلارې په اوږدوکې دميرزا دېو پخواني اشنا کورته ورګرځي . دميرزا ددغه دوست په کور کې عبدالله د هغو خلکو په برخه کې چې په نورو ژبو غږيږي اويادبل مذهب پيروان دي دقضاوت کولو يو ارزښتنا ک درس زده کوي.

**د پخلا ينې په کېسه کې** کله چې د جميلې کورنۍ د ښار په لورې ځي، عبدالله وليدل چې جميلې له کوره څخه خپله پيشو هم له ځان سره راوړې ده . د سفر په اوږدوکې هغې له ځان سره پټه ساتلې وه، عبدالله په قهر سره پشی له جميلې څخه اخلي او دسرک دغاړې بوټو ته بې

ور غورزوي. جمیله په ورور باندې په قهر ده او داسی ځان ښیي چې ګواکې وروړنه لري، دا اوس بي بي جان پورې اړه لري چې د هغوي د پخلا کولو لپاره يوه لاره ومومي.

## د درملنې عنصرونه:

تصویرونه او روغتیا بخښونکې: د دوهم ځل لپاره هم غږیزه کېدل

**د سوله ایزه کړو وړو لپاره لارښوونی:**

مرسته، غوږنیول، په نورو باندې قضاوت نه کول، بخښنه او زړه ورته والی.

**ستونزې:**

قهر، خپل قهر په نورو سړول، په اړېکوکې ستونزی را ولاړول، کېنه اخیستل لجاجت، شرمندګي

**د درملنې لارې**:

له هغه چا سره مرسته کول چې دده یه وړاندې ئې اشتباه او یا غلطی کړي وي،د پخلاینی لپاره منځګړ توب، معذرت غوښتل، د بخښنی لپاره غوښتنه کول ، د نورو سهوه بخښل او د یو غلط عمل جبرانول

دا صفحه سپينه ده

# پخلاینه

د ټولګي په یو ګوټ کې چې هلته په موقتي ډول د یونس کورنۍ ژوند کاو، عبدالله ته خوب نه ور تللو. هغه پېښي چې د ورځې له خوا منځ ته راغلي وې، د ده دقهرجنی ارواح په څېر ئې په ذهن کې را څرخېدلې . ده دتیاري له کبله نشو کولی چې و ویني آیا د کورنۍ بل غړئ ېی هم تراوسه پورې وېښ دی او که نه. خو له ځان سره ئې ویل یواځنی بل کس چې خوب به نه ورځي هغه جمیله ده. له هغی ورځې راهېسې چې دوي کیمپ ته رسیدلی وو جمیلی له هغه سره داسی رویه کوله لکه عبدالله چې د جذام په ناروغۍ اخته وي. عبدالله د جمیلې د دې کړو په لا مل پوهېده خو نه ېی غوښتل چې د هغه کړې کارپه اړه ملامت و ګڼل شي. اوس هغه د کورنۍ دمشر حیثیت غوره کړئ وو، نو باید هغه خامخوا داسې پرېکړي وکړي چې دده دریځ ئې ایجابوي ولو که دغه پریکړې د ده د کوچنۍ خور د قهر سبب هم وګرځي.

دا ټولې خبرې له درې ورځو راهېسې پیل شوې وې.....



آسمان وریځ وو دلمر تو دوخه ئې راتیته کړې وه. د دوی د سفر سرک تر هغه ځای پوری تللی وو چې هلته وړو ونو اوبوټو ځمکه پوښلي وه. جمیله به له دمې کولو څخه وروسته له ټولو مخکه خوځېده او خپل باربه یې له ځان سره وژل دا د جمیلې په شان د یوې لس کلنۍ نجلۍ لپاره خورادروند کاروو. هغې خپل ټکرئ له اوږو تاو کړئ وو، سرېی ځوړند وو او داسی ښکاریده چې ترټکرې لاندې له کوم شي سره یه ورو ورو خبرې کوي. عبدالله له ځان سره وویل: "ښاېی جمیله له ډېری ستومانې څخه لېونۍ شوې وي " ورو او غلی ئې ځان جمیلې ته ورنږدې کړ تر څو وپوهیږی چې جمیله څه وابی.

جمیلې ډېر ورو ویلې: "زما کوچنۍ پېشو، څنګه یې؟



مه خپه کیږه، مونږ به
ډېرژر ورسیږو. هرڅه
به سم شی. "
د عبدالله یو نا څاپه غږ
جمیلې ته ټکان ورکړ وئي
ویل: "ټکرې لاندې دې
څه شئ دی؟"
جمیلې وویل: " هیڅ شی
نشته. "
عبدالله وویل:"ها ها، تا له
خپل ټکرې سره خبری
کولې چې وخت دې ښه
تېرشي. کوڅه ډېره پېشو
دې له ځان سره راوړې
ده ."



جمیلې وویل : " کوڅه ډبې نه ده ، ته خوپوهیږي چې دا په احمد څومره ګرانه ده اوپه ما هم ډېره ګرانه ده نوځکه مې له ځان سره راوړیده . که هغه مې له ځان سره راوړې نه وای .
شاید چې مړه شوې به وه . نوما یواځې پرېږده . "
عبدالله وویل"که داله ځان سره یو سو مړه به شي، یا به ئې څه شی وخوري ، نجلی فکر دې وڼېسه چې مونږ مهاجر یو. بی ځایه شوي خلک یو، مونږ کوم میله ځای ته د ساعتیرئ لپاره نه ځو. "
عبدالله دا وویل او پېشوئې د جمیلې له ټکري څخه را وویستله او په منډه د سرک بلې اړخ ته ولاړ اوهغه یې د بوټو او ونو لاندې و غورزوله. "
که عبدالله دا کار نه وئ کړئ نو څه به ئې کړي و؟ ډېر له خطر نه ډک وخت وو او د دې
وخت نه وو چې پیشو دې له دوی سره واوسي.

.



څو ګامه هغه خوا جميله اوږده غزېدلی وه، هغی هم خوب نه در لود او خپل ځان ئې ډېر يواځی احساسولو. هغه لاتر اوسه په عبدالله په قهر وه . هغی له ډېره قهره عبدالله ته نه ورکتل. خو جميله له دې حالت څخه راضی نه وه. هغه يوه اجتماعی نجلۍ وه او له هر چا سره ډېرژر اشنا کېدله. څومره به ښه کار شوئ وو که عبدالله ته يې بخښنه کړې وای. خو د دې امکان نه وچې هغه و بخښي او ورسره پخلا شي .دونو اوبوتو لاندې دپيشو غورزول ناوړه کاروو.

عبدالله دپيشوله غورزولو وروسته هم داسې خرابه کارونه کول چې د بخښلو وړنه وو . دا کارونه به د جميلې د لا غصه کېدلو لا مل ګرځيدلو. جميلې هغه صحنه را په ياد کړه چې خپل پنډوکئ ئې کېښود او منډه ئې کړه چې پېشو پيدا کړي. عبدالله ئې په مخ کې و دريد او لارئې ورنکړه چې ولاړه شي، جميلې د عبدالله لوري ته منډه کړه خو عبدالله هغه پوري وهله او په چټليو کې ولوېده. جميلې په هق هق وژړل. پلارئې ور باندې غږ کړ: " زر کوئ ! چې موټر را څخه ولاړ نه شي. " عبدالله جميلې ته وويل چې مه ژاړه اوس د دې بې ګټې شيانودساتلو وخت نه دئ.

جميلې دا راپه زړه کول چې عبدالله ته ئې ويلی و: "له تا څخه کرکه کوم ، کاشکې چې ته مړ شوی وي. "

او له خپل ځان سره يې ژمنه کړې وه چې هيڅکله به عبدالله سره خبرې ونه کړي او هيڅکله به هغه ورور ونه ګڼي.



پرون ورځ جمیلې له خپلې کورنۍ سره چې د هستوګنې په نوي ځای کې ئې کالي ځای په ځای کول مرسته وکړه. هغې ټول هغه کارونه چې ور ځخه غوښتل شوي و سرته ورسول او هره پوښتنه چې ترې کېدله ځواب ئې ورته ویلې، له عبدالله ځخه پرته ئې له ټولو سره خبرې کولې. هغې داسې ښودله چې ګویا عبدالله اصلاً دلته شتون نه لري.



کله به چې يو درونډ شئ هغوی ته ورکول شو چې په ګډه ئې يوځای ته ورسوي جميلې هغه کارپه يواځې ځان کولو او عبدالله ته ئې هيڅ نه کتل، جميله ټوله ورځ په عبدالله باندی په غصه وه. که څه هم هغوی په يو تنګ ځای کې مېشت شوي وو. خو د کورنۍ د غړود ډېری بو ختياله کبله دهيڅ چا دې ته پام نشو چې جميله په قهر ده. خو بې بې جان پوه شوه او جميله ئې له و دانۍ څخه بهر د ونو خواته بوتله.



بي بي جان له هغی څخه تپوس وکړ: "زما کوچنۍ لورې څه پېښه شوېده؟ "

جمیلې ځواب ورکړ: "بي بي جان هیڅ پیښه نه ده شوې ستا مطلب څه دئ؟"

بي بي جان وویل: " ته چې له عبدالله سره خبری نه کوي خامخوا ستاسوترمنځ کومه ستونزه شته ده. "

جمیلې وویل:" اوه بي بي جان! هغه زما پېشو ووژله. هغه د احمد پېشو وه احمد تر اوسه خبر نه دی. زه له عبدالله نه کرکه لرم. هغه زما ورور نه دئ. "

بي بي جان وویل: "جمیلې، جمیلې ! د دې خبرو ویل ښه کار نه دئ . یواځی ماته همدومره ووایه چې څه پېښ شوي دي. "

بي بي جان په ډېر ځیرسره غوږ ایښی وو. کله چې د جمیلې خبری پای ته ورسیدې بي بي جان وویل: "رښتیا چې ډېر خراب کار شوي دئ. زه ژمنه کوم چې عبدالله سره به په دې خبره غږیږم "



بله ورځ بي بي جان عبدالله د همغو ونو خواته بوتلو له عبدالله څخه یې د پیشو په اړه پوښتنه وکړه.
عبدالله وویل: "جمیله ډېره احمقه ده هغې غوښتل چې خپله پشو داډول ځای ته راولي.
بي بي جان پوښتنه وکړه: "نو دا ستا کار و چې پرېکړه و کړې، چې پیشو دې ژوندی پاتې شي او یا دې مړه شی؟ "
عبدالله ځواب ورکړ : " ښه ، فکرکوم چې نه داسې نه ده . "
بې بي جان پوښتنه وکړه : " ایاته پوهېږې چې دخورپه زړه دې څه تېریږي.
عبدالله وویل: "فکر کوم چې له ما څخه مروره ده. "
بي بي جان وویل: "هو عبدالله ، او هغه ډېره خپه هم ده. هغه ډېر نازک زړه لري ته باید درک کړي چې په هغې باندې خپله پیشو ډېره گرانه وه. د هغی په ساتنه کې یې له احمد سره ډېره مرسته کوله. هغه ډېره، ډېره پرېشانه ده. "
عبدالله غلی و.
بي بي جان خبروته ادامه ورکړه: "څه شی لا مل شو چې دا کار دې وکړ؟"
عبدالله وویل: "بي بي جان نه پوهیږم .زه له دې کبله چې له کور څخه مو کډه کوله ډېر خوابښینی وم، ما داسی فکر کولو، ټول هغه شیان چې ما په کورکې د هغو ساتنه کوله، له لاسه ورکړې دي. وروسته مې سترگی په جمیلې ولگیدې. خوهغې چې یواځې له یوشي څخه په کور کې ساتنه کوله اوهغه ئې له ځان سره را اخیستی وه. ما بخیلي وکړه" یوگړی چپ شو او بیایې وویل: "ما باید دا کارنه وئ کړئ. "
بي بي جان وویل: "هو ! تا باید دا کار نه وی کړی. اوس په دې فکر وکړه چې د یو ناوړه کار د جبران لپاره څه باید وشئ؟"
عبدالله وویل: "نه پوهیږم زما جمیله خوښیږي هغه پرما گرانه ده، هغه زما خورده او اوس هغه له ما څخه کرکه لري. "

بي بي جان وویل: "ښه ، دا تا پورې اړه لري چې د خپلی پخلاینې لپاره یو کار وکړې اول ته باید له هغې څخه بخښنه وغواړې، دا کار ستا په وس کې شته دی؟"

عبدالله وخندل او وېې ویل: "فکر کوم چې وبه یې کړی شم خو دا چې له خور څخه بخښنه وغواړم اسانه کار نه دئ!



"بي بي جان وويل: "نه، خو که ته غواړې چې ددوستۍ يوه اړيکه ولري مجبور يې چې لومړي ته بخښنه وغواړي او بيا ور څخه غوښتنه وکړې چې تا وبخښي . کولۍ شې چې دا کار وکړې؟"

عبدالله ځواب ورکړ: "دا به هم سر ته ورسوم؟ ښه، نورڅه؟"

بي بي جان وويل: "وروسته ته بايد کوښښ وکړې چې يوه تحفه ورته ورکړې، دا د دې لپاره هغه کارچې تا کړی‌جبران یې کړي. ته ښايي ونه شې کړی چې هغه په بشپړ ډول جبران کړې دا ځکه هغه يوه خاصه پېښو وه چې په جميلې گرانه وه. "

عبدالله وويل: "هغه څه چې تا وويل ډېر ښه وو. بي بي جان زه کوښښ کوم چې سرته يې ورسوم. "

بيا ورسته عبدالله بي بي جان ته د کېسی يو کتاب ورښکاره کړ، دا کتاب ئې له يو ې مرستندويه موسسې څخه په کيمپ کې لاس ته راوړئ و. دا يو مناسب کتاب وو او د جميلې له سويي سره برابر او يا خو لږڅه د هغې له سويي څخه لوړو، ده غوښتل چې هغه جميلې ته د لوستلو لپاره ورکړي . دا يو ښه او دقيق انتخاب وو. و روسته عبدالله پوښتنه وکړه: "بي بي جان زه نورڅه کولی شم، يواځې همدا کتاب ورکړم؟"

بي بي جان وويل: "نه، هغه ئې بيرته تاته در گذاروي. تا سو دواړه لومړی بايد يوبل سره خبری وکړئ ته دونو خواته لاړشه زه جميله هلته درولم. "



د جمیلې زړه نه غوښتل چې له انا سره دې راشي.

هغې وویل هیڅکله به لاړه نشی چې عبدالله سره خبری وکړي او دا کوښښونه کومه ګټه نه لري ." بي بي جان وویل: " ته له هغه سره خبرې مه کوه فقط غوږ ونیسه. "

بي بي جان عبدالله خپل یوځنګ او جمیله ئې بل ځنګ ته کښینوله . جمیلې عبدالله ته نه کتل.

بي بي جان وویل: " عبدالله تا غوښتل چې ځنې شیان جمیلې ته ووایې، نو خپلی خبرې دې شروع کړه. "

جمیلې په داسي حال کې چې خپلې مخې ته کتل وویل: "نه غواړم چې د هغه خبری واورم، که هغه هر څه ووائې. "

بي بي جان وویل: " جمیلې غوږ کیږده. "

عبدالله وویل: " نه جمیلې ، زه هغه ورځ ډېر پریشان او خپه وم. "





جمیلې په نا خوښی انا ته وویل: "  مهرباني وکړه هغه ته ووایه، زما لپاره دا مهمه نه ده چې هغه څه احساس درلود. دا ماته کومه معنا نه لري. "  بیا یې مخ عبدالله ته ور وګرځولو او چیغه یې کړه: "  تا زما پېشو ووژله! "

عبدالله وویل: " ښه، ما خو هغه نه ده وژلې، ښايي تر او سه پورې ژوندۍ وي او پر دې برسیره پېشو نشو کولې چې دلته له مونږ سره ژوند وکړي. "

بي بي جان وویل: "  عبدالله د خور خبروته دې غوږنیسي او که له خپل ځان څخه دې دفاع کوي؟ "

عبدالله وویل: " جمیلې! ما ښه کار ونه کړ، زه معذرت غواړم. "

جمیلې وویل: " ته معذرت غواړې؟ هیڅکله نه، تا چې له دې څخه مخکې هرځل اشتباه کړې ده  له ما څخه دې معذرت نه دئ غوښتلی ، اوس رښتیا هم معذرت غواړې؟ "

عبدالله وویل: "  زه په رښتیا معذرت غواړم . کاشکی مې هغه کار کړی نه وای، زه پوهیږم زما هغه کار ته ډیره وزورولې .  زه هیڅکله نه غواړم چې خپله خور وزوروم. "

جمیلې وویل: "  مننه عبدالله ! ما داسې فکر کولو چې ته هیڅ احساس نه لري خو ته ډېر با احساسه  انسان یې له معذرت غوښتنې دې مننه. "



عبدالله پوښتنه وکړه: " ما ته
بخښنه کوي؟ "
جميلې ځواب ورکړ: " ولې نه ،
زه هم د هغو بدو الفاظو چې تا
ته مې وويل معذرت غواړم.

عبدالله وويل: "  هيله کوم، زه
تا درک  کولې شم ما تاته يوه
تحفه اخيستی ده. هغه تا ته د دې
لپاره در کوم چې زما اوستا
خورگلوی او وروگلوي بير ته
ټينگه شي. دا واخله"عبدالله  د
کيسې کتاب جميلې ته ورکړ.





جمیلې وویل: " اوه. عبدالله ! ډیره اوچته تحفه ده زه له دې سره ډېره مینه لرم. "
زه نشم کولئ باوروکړم چې دا خبري تا ته کوم، خو زه خوشحاله یم چې ته زما ورور یې .
جمیلې منده کړه خپل ورور ئې په غیږ کې ونیو.
بي بي جان په خبرو شروع وکړه وېې ویل : " اوس تاسې دواړه له خپلې سپین سرې او بوډۍ انا سره مرسته وکړئ چې له خپل ځای نه اوچته شي. له دې کبله چې ډیر وخت په مځکه کښناستو ستړي شوم. راځې چې ولاړشو په ګډه سره یوچاي و چښو.

*********